# د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي په اړه راپور ورکول

2019 ویکټورین نسخه

## مینځپانګې


1. دا لاربښود ولې مهم دی 3

2. پدې پوهیدل چې تبعیض څنګه په تاوتریخوالي اغیز کوي 4

**3. د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالي راپور ورکولو لپاره 10 ګامونه** 5

3. د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو اوسیدونکي ښځو لخوا تجربه کړي تاوتریخوالي په اړه راپور ورکول 9

4. د آسټریلیا او نړۍ څخه د بد نه ښه راپور ورکولو مثالونه 10

4. عام ناسم تصورونه 11

3. حقایق او ارقام 13

ارقام 13

5. د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي اغیزې 14

6. تعریفونه 15

اصطلاحات 15

7. رسنۍ او د شالید اړیکي 16

8. سرچینې او نور معلومات 17

## 1. دا لارښود ولې مهم دی

د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالی په آسټریلیا کې یو جدي مشکل دی. په اوسط ډول په هره اونۍ کې یوه ښځه د هغې د اوسني یا پخواني د ژوند ملګري لخوا وژل کیږي (AIC, 2017).

څیړنو ښودلې ده چې رسنۍ د ټولنیز بدلون پیاوړی لامل دی او کولی شي چې د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي لامل کیدونکي کلتور، چلند او سلوک کې مثبت بدلون راوړي. او د کال پخواني آسټریلیایی Rosie Batty وایی، رسنۍ "په کورنۍ توګه د تاوتریخوالي پیل کیدو څخه مخکې د هغې بندولو کې مرسته کولی شي". دا ځکه چې:

- د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالي په اړه د رسنیو قوي راپورونه کولی شي د لوستونکو، اوریدونکو او لیدونکو سره مرسته وکړي پوهه شي چې دا مسله څومره عام ده، څوک اغیزمن کوي، لاملونه یې څه دي، او څنګه یې مخنیوی شونی دی.
- رسنۍ همدارنګه کولی شي د ښځو او د هغوی د ماشومانو د فکر بڼه بدله کړي کوم چې هغوی د تاوتریخوالي د خپلو تجربو په اړه لري او د هغوی دې پریکړو باندې اغیزه وکړي چې آیا په اړه یې وغږیږي، اقدام وکړي یا د ملاتړ په لټه کې شي.
- همدارنګه رسنۍ کولی شي د تاوتریخوالي عاملینو په فکر باندې د هغوی د تاوتریخوالي کارولو انتخابونو باندې اغیزه وکړي او ممکن د خپل چلند د بدلون په پار ملاتړ وغواړي.
- رسنۍ کولی شي د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي په اړه د تحقیق او پلټنو له لارې عامه پالیسي او قوانینو باندې اغیزه وکړي (د مثال په توګه، د نیو ساوت ویلز حکومت د یوه لوی جنسي تیري محکمې اړوند څلور اړخیزو پلټنو په تعقیب د دولت د رضایت قوانین Law Reform Commission ته راجع کړ).
- رسنۍ ټولنې ته بڼه ورکولو کې مرسته کولی شي چې څنګه د تاوتریخوالي په اړه خبرې وشي – په ځانګړې توګه د هغه ښځو لخوا تجربه شوی تاوتریخوالی چې څو ډوله تبعیض او رټنې سره مخ کیږي – او دې باور ته وده ورکړي چې دا ډول تاوتریخوالی هیڅکله د منلو وړ ندی یا نه بخښل کیږي.

> *رسنۍ "په ځانګړې توګه کولی شي د تاوتریخوالي مسلې ته دریځ برابر کړي، د کورنې تاوتریخوالي اړوند خورا ډیر پوهاوی رامینځته کړي، او واقعیي بدلون راولي."*
>
> **- Rosie Batty،** د کورنې تاوتریخوالي په وړاندې کمپاین کونکی او د کال پخوانی آسټریلیایی

**د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي په اړه د رسنیو پوښښ په ویکټوریا کې د پام وړ وده کړې ده.** رسنیز مرکزونه او رسنۍ تردیره د تاوتریخوالي د علتونو ارزونه کوي او د هغه ادبیاتو کارولو څخه ډډه کوي چې کولی شي سهواً د تاوتریخوالي قربانیان ګرم وګڼي، د عاملینو لخوا شوې پریکړو ته برآت ورکړي، یا په ناسم ډول دا انګیرنه وړاندې کړي چې د الکول یا رواني روغتیا په څیر فاکتورونه د تاوتریخوالي لاملونه دي.

مګر موږ لاهم اوږد مزل مخته لرو. یوه وروستي راپور موندلې دي چې په آسټریلیا کې د تاوتریخوالي اړوند د رسنیو 15 سلنه راپورونو کې د «قرباني ګرم ګڼلو» موارد شامل کړی شوي دي، لکه هغه نشه وه، معاشقه یې کوله/د تاوتریخوالي عامل سره کور ته تللې، یا شپې ناوخته یوړې له کوره بهر وه. لکه د تاوتریخوالي عامل لپاره کارول کیدونکي بهانې، د مثال په توګه، هغه نشه و، نشه ییز توکي یې کارولي و، کستمن و، "قاریدل" یا "د کنټرول له لاسه ورکول" (ANROWS, 2016). په ځانګړې توګه دا موندنې هغه مهال خورا اړوند بریښي کله چې د داسې ښځو اړوند راپور وي چې څو ډوله تبعیض او فشار تجربه کوي.

د دې او نورو موندنو په ځواب کې، او د رسنیو او د ښځو په وړاندې تاوتریخوالي له مینځه وړلو په برخه کې په کار بوخت سازمانونو د استازو سره په مشوره، Our Watch دا لارښوونې چمتو کړي دي.

**دا لارښوونې معلومات او اشارې لري چې رسنۍ یې کولی شي د دې داډ لاسته راوړلو لپاره وکاروي چې د هغوی راپور د ټولو ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي د حل لارې برخه ده او د تاوتریخوالي قربانیانو ته د زیان لامل کیږي نه یا د تاوتریخوالي ملاتړي چلند او سلوک د هڅولو لامل کیږي نه.**

## 2. پدې پوهېدل چې تبعیض څنګه په تاوتریخوالي اغېز کوي

د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی په کوم یوه کلتور یا ټولنه پورې محدود ندی. په هرصورت، **د قدرت او ځواک نابرابری تبعیض رامینځته کوي او ځینې ښځې په نامتناسب ډول د تاوتریخوالي څخه اغیزمن کیږي**، په مکرر ډول د تاوتریخوالي قرباني کیږي، او د تاوتریخوالي راپور ورکولو او د ملاتړ تخصصي خدماتو ته لاسرسي لپاره د سیستماتیک خنډونو پشمول د ډیرو خنډونو سره مخ کیږي.

هغه ښځې چې په نامتناسب ډول د تاوتریخوالي څخه اغیزمني شوي په هغوی کې د محدودیت پرته دا لاندي ښځې شامل دي:

- بومي وګړي او د توریس سټریټ ټاپو اوسیدونکي، او همدارنګه
- مهاجرین او کډوال،
- معیوبین،
- LGBTIQ+، او
- د کره عمر ښځې.

> **د ادبیاتو په اړه یاددښت**
>
> پدې راپور کې، د «ښځو پروړاندې تاوتریخوالی» د ښځو لخوا تجربه کیدونکی هرډول تاوتریخوالي بیانولو لپاره کارول شوی دی، پشمول د کورنۍ او د کور دننه تاوتریخوالی، جنسي تیری او ناوړه چلند، او د نا آشنایانو لخوا فزیکي بریدونه. 15 ام مخ کې تعریفونه وګورئ.

دا خبره هم مهمه ده چې د مختلف ډوله فشار یا تبعیض په اړه فکر وشي چې یوه ښځه ورسره مخ کیږي او دا چې دغه موارد څنګه د تاوتریخوالي اړوند د هغې تجربه لانوره هم ترخه کوي. د مثال په توګه، احتمال شتون لري چې یوه معیوب بومي ښځه د جنډر او جنسي نابرابری ترڅنګ متقابل تبعیض او توکم پالنه تجربه کړي. دا مورد هم واضح کیدی شي چې د ځیني ښځو لپاره د مرستي غوښتنه یا د ملاتړ خدماتو ته لاسرسی ولی سخت دی، په ځانګړي توګه د هغه ډله ښځو لپاره چې نهادي ناوړه چلند یا دولت لخوا د مجازاتو وړ تاوتریخوالی یې تجربه کړی وي یا په دوامداره ډول یې تجربه کوي.

دا چې ځیني ښځې په نامتناسب ډول د تاوترخوالي قرباني کیږي په لاملونو او دلایلو کې یې دا موارد شامل دي:

- **د احتمال له مخې ځو ډوله تبعیض یا فشار تجربه کونکي ښځو پروړاندې تاوتریخوالي باندې سترګې پټیږي.** د مثال په توګه، د «کلتور او فرهنګ» برخه ګڼل کیدل، په مذهبي او دیني متنونو کې برحق ښودل، یا د کوم رسمي/غیررسمي کیرير لخوا ورباندي سترګې پټیدل ځوک چې کیریر ستریس لاندي وي.
- **هغه ښځې چې ځو ډوله تبعیض او فشار سره مخ کیږي ډیری وختونه یو نواخت وي.** د مثال په توګه، ممکن هغوی «څرګند، بریدګر، د نشه ییز توکو کارونکي» ونومول شي، د عمر یا معیوبیت له امله جنسي لیوالتیا ونلري، او دا چې د هغوی پروړاندې تاوتریخوالی عادي وګڼل شي او نامساعد شرایطو ته نسبت ورکړل شي.
- **د نارینه جوړي اړیکې چې یرغل او برید باندې تاکید کوي په ځینې ښځو ډیره اغیزه کولی شي.** د مثال په توګه، د کډوالی او مهاجرت سابقې لرونکي ښځو ته جنسي تحریک ورکول کیدی شي، د جنسي سیاحت، «تبعیضي لغل او لوڅ فلمونو» او خرافاتو لپاره هدف ګرځول کیدی او هڅول کیدی شي.
- **ډیر احتمال شتون لري چې ځینې ښځې د نارینه واکمن پریکړې څخه اغیزمني شي چې له مخې یې خپلواکي محدودیږي.** د مثال په توګه، تعلیم او کاري فرصتونو ته د مساوي لاسرسي نه شتون، او د «کلتور او فرهنګ له مخې» د پریکړو لپاره د نارینه و د کنټرول واک تایید او تصدیق.

که څه هم دا مهمه خبره ده چې رسنۍ پوهیږي څنګه جوړښتي تبعیض او فشار د ښځو د تاوتریخوالي تجربې لاډیری شدید او ناوړه کولی شي، دا پدې معني نده چې د تاوتریخوالي لپاره د هغوی کلتور، جنسیت، کاري انتخابونو، معیوبیت یا نورو فاکتورونو باندې پړه واچول شي.

## 3. د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالي راپور ورکولو لپاره 10 ګامونه

تاسې کولی شئ د دې ډاډ ترلاسه کولو لپاره دا 10 ګامونه وچت کړئ چې ستاسې راپور د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي **د حل برخه** ده او ډاډ لاسته راوړئ چې ستاسې راپور د تاوتریخوالي قربانیانو/پاتې کیدونکو ته د نوي یا اضافي زیان لامل نشي یا د داسې چلندونو او سلوک تقویت کړي چې تاوتریخوالی ملاتړ کولی شي:

### 1. وې نوموئ

> "د تاوتریخوالي او شدید اضطراب د پاتې شویو په توګه زموږ د مور د قضیې راپور ورکولو ځرنګوالي زموږ د رالوی کیدو پرمهال په موږ ژور اغیز کړی... ما فکر کاوه چې کورنی تاوتریخوالی د ژوند حقیقت و، خو زه پوهیږم چې دغسې باید نه وی."
>
> **Arman Abrahimzadeh**، - Our Watch سفیر

**کول:** کله چې له قانوني پلوه ممکن وي، د «ښځو/او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالي»، «کورنی تاوتریخوالی»، «تیری»، «جنسي تیری»، «د لوی سره ناوړه چلند»، «د ماشوم سره ناوړه چلند»، «د ماشوم د استثمار مواد»، »جنسي تیری» یا «قتل» اصطلاحات کارول که چیرې/یا توروونه پورې شوي وي او دا موارد د تطبیق وړ وي. دا د لیدونکو او اوریدونکو سره مرسته کوي چې پوهه شي د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالی د «تاوتریخوالي ناڅاپي اعمال» چې هیڅ څوک یې نشي لیدلی پرځای یوه خپره او د هرځای مسله ده. په *16م مخ کې تعریفونه* وګورئ.

**نه کول:** د داسې اصطلاحاتو کارول چې تاوتریخوالی لږترلږه کوي/بې اهمیته کوي (لکه «کورنی شخړه»، «نازکه اړیکه»، یا «د ماشوم لوڅ فلم»).

### 2. لومړی خوندیتوب

**کول:** ډاډ لاسته راوړئ چې تاسې د مسلې په اړه پداسې ډول راپور ورکړئ چې د پاتې کیدونکي محافظت یا خوندیتوب د خطر سره مخ نشي. په پام کې ونیسئ چې د پاتې کیدونکي/کیدونکو په اړه په راپور کې د مشخص تفصیلاتو شاملول، یعني څه پیښ شوي او چیرې (لکه د ماشومانو شمیر، کورنی یا د کورني ژوي تفصیلات، کارول شوی ځواک یا وسلې، ټپونه وغیره) د پاتې کیدونکي/کیدونکو هویت څرګندولی او هغوی د خطر سره مخ کولی شي.

**کول:** په یاد ولرئ چې د مثال په ډول بومي او د توریس سټریټ ټاپو اوسیدونکو ټولنو یا کلیوال او سیمه ییز سیمو کې د شناخت او هویت پټولو لپاره شوي اقداماتو سربیره د یوه شخص پیژندل اسانه دي.

### 3. د شواهدو پربنسټ ادبیات وکاروئ

**کول:** داسې ژبه او چوکاټ وکاروئ چې د اوریدونکو او لیدونکو سره مرسته وکړي په [شواهدو پوهه شي،] چې د نړۍ په کچه **ترډیره د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالی د جنډر یا جنسي نابرابرۍ** له امله دی، پشمول د:

- د ښځو پروړاندې د نارینه تاوتریخوالي باندې سترګې پټول
- په پریکړو باندې د نارینه کنټرول او د ښځو د خپلواکۍ او آزادۍ محدودیتونه
- د نارینه توب او ښځیتوب قالبي جوړښتونه
- د ښځو او نارینه جوړې د اړیکو په اړه درناوی نه درلودل چې په یرغل تاکید کوي.

**نه کول:** د تاوتریخوالي داسې شرح کول چې د الکول یا نشه ییز موادو له امله رامینځته شوی یا «تحریک شوی»، یا رواني روغتیا، سټریس، مالي حالتونو، کلتور، د معیوب فرد د پاملرنې بوج، یا د تاوتریخوالي عامل یوازې «قاریدو» پورې تړاو ورکول. دا د شواهدو سره سمون نلري. که څه هم دا مسایل ممکن تاوتریخوالی شدید کړي، **مګر دا یې لاملونه ندي.**

**نه کول:** د داسې ژبې او ادبیاتو کارول چې تاوتریخوالی برحق کوي یا د هغه څه لپاره چې پیښ شوي دي سهواً قرباني ګرم ګڼل شي، پشمول د دې چې آیا هغوی نشه و، شپه ناوخته پورې له کوره بهر و، یوازې ګرځیدل، نورو خلکو ته کتل، وغیره.

## 4. په قانون پوهیدل

**کول:** خبر اوسئ چې ځینې قانوني پارامیترونه شتون لري چې په ګوته کوي د ځینې جنسي تیریو یا بریدونو په تړاو تاسې د څه شي راپور ورکولی شئ او د څه شي نشئ، د محافظت امرونه صادر شوي، یا آیا په اړوند پیښه کې ماشومان هم شامل دي. **د ژورنالیستانو او رسنیو څخه تمه کیږي چې پدې قضیو کې خپل مکلفیتونه وپیژني او پدې لارښوونو باندې باید تکیه ونکړي. د ABC د 2016 لارښود[1] اضافي معلومات لري.**

**کول:** پوهه شئ چې د تاوتریخوالي ډیری ډولونه دي، پشمول د احساسي یا رواني ناوړه چلند، د لوی سره ناوړه چلند، مالي ناوړه چلند او اجباري کنټرول چې ممکن اوسمهال جرم نه وي[2]، مګر په یاد ولرئ چې ټول ډولونه جدي دي او ژوند ګواښلی شي.

> *"رسنۍ د کورني تاوتریخوالي په اړه پوهاوي رامینځته کولو کې ستر اغیز درلودلی دی او دا لارښوونې به د خبري خونو سره مرسته وکړي چې د دې پیچلې مسلې په اړه راپور ورکړي."*
>
> **Andrew Eales** - مدیر، Fairfax سیمه ییز

**د پاتي شویو سره مرکه کول**

په هغه خلکو د کیسي اغیزه په پام کې ونیسئ د چا په اړه چې ده. ستاسې مرکه او راپور ورکول ممکن هغوی ته له سره زیان ورسوي یا سهوآ هغوی ته شرم ورپورې کړي. د هغه ماشومانو سره خبرې کول چې پاتې شوي یا د تاوتریخوالي شاهد وي دا هم په ځانګړې توګه خطر درلودلی شي. دلته ځینې د هغه ښځو او ماشومانو ژغورلو او محافظت کولو لپاره لارښووني دي چې تاسې یې په اړه راپور ورکوئ:

- پای ته رسیدونکي پوښتني وپوښتئ، لکه "د هغه څه په اړه چې پیښ شوي تاسې ماته څه ویلی شئ؟"
- پوښتنه وکړئ چې هغوی غواړي څنګه وپیژندل شي او یاد شي (لکه «قرباني» یا «پاتي شوی»، «معیوبیت لرونکې ښځه»، د «معیوب ښځې» پرځای، د هغوی ترجیحي ضمیرونو سره او د کلتوري تړاونو سره.)
- هغوی ته د هغوی د کیسې ویلو لپاره د امکان تر حد پورې ډیر وخت ورکړئ
- ډاډ لاسته راوړئ چې د هغوی د کیسي مواردو خپرولو لپاره د پوهې له مخې رضایت ولرئ، او چیرې چې ممکن وي، هغوی ته فرصت ورکړئ د هغه څه بیاکتنه وکړي چې له مخې یې د هغوی یادونه کیږي یا خبرې یې راخیستل کیږي.
- خبر اوسئ چې د پاتي شویو لخوا د هغوی کیسو ویلو کې د خوندیتوب او همدارنګه اخلاقي مسایل دخیل دي، پشمول د پیژندل کیدو او مجازاتو خطرونه، او د قانوني پروسې اغیزمن کیدو یا متاثر کیدو احتمال.
- پوهه شئ چې د ښځو او د هغوی د ماشومانو سره په کار بوخت خدمات په ورته ډول څو سرچیني لري، شاید خلک د خپلو کیسو ویلو لپاره سمدلاسي چمتو نه وي او شاید د خوندیتوب دلایلو له مخې پاتي شوی دې ته ونه هڅوي چې رسنیو سره خبرې وکړي.
- په یاد ولرئ چې د ښځو پروړاندي تاوتریخوالی د ژوند په دورو کې بدلون کولی شي، د مثال په توګه، زړې ښځې د هغوی د لوی ماشومانو لخوا ناوړه چلند تجربه کوي.
- کله چې د محکمې قضیي او تاوتریخوالی پیښیږي نو د عاجل غبرګونونو ملاتړ لپاره د تخصصي خدماتو سره اړیکې او باور رامینځته کړئ.

[1] ABC, 2016, http://about.abc.net.au/wp-content/uploads/2016/03/Final-DFV-Fact-Sheet-15-Feb-2016.pdf
[2] Family Violence Prevention Act, 2008

## 5. د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی پاروونکی ندی

**نه کول:** پاروونکی یا بي اهمیته تاوتریخوالی، پشمول د بشپړ ډول ډراماتیک ادبیاتو کارولو له لارې، غیرلازمي تفصیلات، بي ګټې یا محروم کونکی انځورونه (8ام مخ، د *مناسب انځورونو یا عکس کارول وګورئ*) یا نامناسب مآخذونه یا تجنیس. 10ام مخ، د *«بد نه ښه» راپور ورکولو مثالونه* وګورئ.

> *"زما لپاره د بیانډبلو او د آسټریلیا معیوبیت لرونکي خلکو په څیر سازمانونو د راپور ورکولو او ادبیاتو لارښووني خورا ډیرې ګټورې وي — دا معني لرونکي خبره ده چې د کورني تاوتریخوالي په څیر لوی مسلې لپاره ورته لارښووني شتون لري چې د امکان تر حد پورې خورا با مفهوم طریقه کې د دې مسلې پوښلو لپاره د راپور ورکونکو سره مرسته کوي."*
>
> **Melissa Davey -**
> د میلبرن دفتر رییسه
> Guardian Australia

## 6. د مرتکب تصدیقول

**کول:** د دې تاکید کولو لپاره فعاله ژبه وکاروئ چې کوم چا د قرباني پروړاندې دا تاوتریخوالی کړی دی. د مثال په توګه، د مجهول سرلیکونو کارولو پرځای لکه «ښځه وهل شوې»؛ «سرې ښځه وهلې» یا «سرې خپله مخکینی میرمن وهلې» په پام کې ونیسئ. غیرلدې، مجهول سرلیک له مخې داسې جوت کیدی شي چې تاوتریخوالی داسې یو څه دې چې ښځو ته «پیښیږي»، پداسې حال کې چې په حقیقت کې تل مرتکب کونکی شتون لري.

**کول:** د پاتې شوي او مرتکب ترمینځ اوسنی یا مخکینی اړیکه واضح کړئ (که چیرې شتون ولري او تاسې د قانون له مخې وکولی شئ چې وې نوموئ). لیدونکو او اوریدونکو ته یادونه وکړئ چې د ښځو په وړاندې ډیر تاوتریخوالی د داسې کوم چا لخوا ترسره کیږي چې هغوی یې پیژني (لکه د ژوند اوسنی یا پخوانی ملګری، لوی ماشوم یا د کورنی بل غړی، یا پاملرنه کونکی) او د نا آشنا خلکو لخوا بریدونه ډیر عام ندي (د نا آشنا فرد لخوا فزیکي یا جنسي برید).

**نه کول:** دې نظر ته تقویت ورکړئ چې د نارینه د تاوتریخوالي مخنیوي لپاره ښځې باید پولیسو ته ورشي یا خپل چلند کې بدلون راولي. پداسې حال کې چې د ښځو او انجونو خوندیتوب اهمیت لري، د تاوتریخوالي مسؤلیت باید تل د هغه شخص په غاړه وي څوک چې یې مرتکب شوی وي.

> *"کله چې زما خور Niki ووژل شوه، د رسنیو ډیری راپورونه د هغې د پوټکي رنګ، زموږ کلتوري شالید په اړه و، یا په یو ډول نه یو ډول یې د "کلتور" یا "غیرت په نوم قتل" له امله د جنایی اقدام لپاره د عامل یا تخلف کونکي عمل د پامه غورځاوه... کله چې دا هرڅه پیښیده، یو نارینه دا انتخاب کړی و چې د یوې ښځې ژوند واخلي. [موږ اړ یو] دې تولو فاکتورونو ته کتنه وکړو او دا چې څنګه دا هرڅه د یوه ځانګړي قوم او نورو کلتوري ډلو ځخه د ښځو لپاره د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی تړدی حده جدي کوي."*
>
> **Tarang Chawla**، -
> سفیر Our Watch

## 7. کیسې ته بڼه ورکول

**کول:** کله چې تاسې کولی شئ، کیسې ته د بڼه ورکولو لپاره د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي په اړه دولتي، ملي، او (که مناسب وي) نړیوال ارقام وکاروئ. په ذهن کې ولرئ چې ډیری ښځې د تاوتریخوالي په اړه راپور نه ورکوي او د ارقامو راټولیدو یا نه راټولیدو او په هغې باندې د پوهیدو څرنګوالی د کیسې مهمه برخه کیدی شي. 15ام مخ، د *ډیټا ستونزه* وګورئ.

## 8. تل د ملاتړ موجود انتخابونه شامل کړئ

**کول:** تل خپلو اوریدونکو او لیدونکو کې د هغه نارینه، ښځو او ماشومانو د مرستې لپاره فرصت وکاروئ څوک چې د مرستې په لټه کې وي. په منظم ډول د هغه خلکو لپاره چې کورنی تاوتریخوالی یې تجربه کړی وي د تخصصي ملاتړ انتخابونو په اړه معلومات شامل کړئ، لکه: **"که تاسې یا داسې کوم څوک چې تاسې یې پیژنئ کورنی تاوتریخوالی تجربه کوي، 1800 RESPECT ته تلیفون وکړئ."** همدارنګه د نارینه لپاره هم یادونه ولرئ، لکه: **"د هغه نارینه لپاره مشوره، مرسته او ملاتړ لپاره چې د غصې، اړیکي یا والدین د چارو اړوند ستونزې لري، په 1300 766 491 د Men's Referral Service ته تلیفون وکړئ."**

**نه کول**: یوازې د ځان وژنې یا رواني روغتیا تخصصي خدماتو په اړه د معلوماتو وړاندې کول. دا سهواً د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې شوي تاوتریخوالي اغیزه له پامه غورځوي او هغه خلکو ته پدې اړه د خبرداري ورکولو فرصت له لاسه ورکوي څوک چې اوسمهال تاوتریخوالی تجربه کوي چې د تخصصي مرستې لپاره چیرته لاړ شي.

> "دا خورا مهمه ده چې د دې لارښوونو جوړولو او پلي کولو کې رسنۍ خپل د پام وړ رول درک او قبول کړي."
>
> **Shaun Gough** - د مینځپانګې رییس، Triple M، میلبرن

## 9. مناسب عکسونه او انځور وکاروئ

**کول**: په یاد ولرئ چې د یوې کیسې د ویلو لپاره عکسونه او انځور خورا ډیر اهمیت لري مګر کولی شي د جنډر، نژاد، وړتیا او عمر په اړه د تل لپاره زیان لرونکی لیدلوری رامینځته کولی شي. په مثالونو کې یې داسې انځور وړاندې کول شامل دي چې «هغه نشه وه»، د هغې سره ناوړه چلند کونکي څخه ویریدل، «بې قاعده یا جنسي چارو کې آزاده» او «د مسؤلیت حس نه درلودل»، یا دا چې «هغه یو ښه خوی لرونکی د کورنۍ نارینه و».

**کول**: له خپل ځان څخه وپوښتئ (که تاسې نوی انځور تولیدوئ یا د سټاک انځورونه انتخابوئ) چې انتخاب کړی انځور د شخص په اړه څه کیسه بیانوي. که چیرې تاسې پخپله وی، نو آیا تاسې به د دغه کارول کیدونکي عکس سره راحته وی؟ او، دا به د کورنۍ غړو او ملګرو باندې کومې اغیزې ولري؟

> "ښه سړي یا ملګري خپلې کورنۍ نه قتلوي. هغوی د خپلو ښځو سره ناوړه چلند نه کوي. هغوی خپلو لورګانو او زامنو ته زیان نه رسوي. او هغوی هیڅکله هم خپل لمسیان نه قتلوي."
>
> **Rebecca Poulson** - د Sydney Morning Herald لپاره

**نه کول**: د لوړ ځای څخه د پاتې شویو یا قربانیانو عکسونه اخیستل چې هغوی کوچني ښکاره شي، د هغوی څخه غوښتل چې «خفه ښکاره شي» یا «بې وسه» یا د تولنیزو رسنیو څخه د بیکیني پوښاک په تن عکسونو کارول که چیرې دا یوازې څه وي چې تاسې یې موندلی شي او راواخلئ یې!

## 10. د تبصرو لپاره ماهرین او متخصصین راوغواړئ

**کول**: مسلې ته ښه ورکولو لپاره د ښځو پروړاندې د ناوتریخوالي موضوع اړوند متخصصینو ته رجوع وکړئ. د کورنۍ تاوتریخوالي او جنسي تیري خدماتو او د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي مخنیوي ادارو او څیړونکو د نوملړ لپاره 18ام مخ، سرچینې وګورئ، د اړتیا په صورت کې د بومي او تیرس سټریټ ټاپو اوسیدونکو، کډوالو او مهاجرینو، او +LGBTIQ ټولنو کې د تخصصي تجربې لرونکو پشمول.

**کول**: د ګاونډیانو یا ملګرو لخوا د مرتکب د شهرت ارزونې شاملولو په اړه محتاط اوسئ، لکه "هغه خورا «ښه سړی» و او «ښه پلار» و." دا ناسم کار دی ځکه کورنی تاوتریخوالی ترډیره پټ او په کور کې دننه او په اوږده موده کې پیښیږي.

**نه کول**: د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي په اړه راپور ورکولو کې د تبصرو لپاره یوازې پولیسو یا قضا باندې تکیه کول. په یاد ولرئ چې که څه هم پولیس کولی شي د راپور ورکړل شوي جرم تاریخچه وړاندې کړي، د ښځو پروړاندې ډیری تاوتریخوالی غیر جرمي دی، "پیښه" نه وي، او د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي ډیری پیښنو راپور نه ورکول کیږي.

> "د دې مواردو پرته، پیښه د یوې جلا او ناڅاپي پیښې په توګه وړاندې کیږي. دا مسؤلیت افرادو ته او حل لاره قضایی سیستم ته پریږدي. دا پاتې نورې ټولنې ته لاره برابروي چې له پامه یې وغورځوي او د کوم بل چا ستونزه یې وګڼي."
>
> - **Annie Blatchford**، خبرې

## 3. د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو اوسیدونکي ښځو لخوا تجربه کړي تاوتریخوالي په اړه راپور ورکول

د دې خبرې تاییدول خورا مهم دي چې د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو د خلکو په ناسم ډول ورانديز کولو او معرفي کولو اوږد تاریخ شتون لري، په ځانګړي توګه د بومي ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي په اړه د راپور ورکولو پرمهال.

> *"ژورنالیستان اړ دي پوهه شي چې تاوتریخوالی او ستونزې له کومه پیدا کیږي او دا چې دا د نژاد یا کلتور له امله نه بلکه د استعمار، ناسم شرایطو او ولږې نښې دي. پدې مسله باندې د پوهیدلو لپاره خلک اړ دي چې د آسټرلیا تاریخ وګوري."*
>
> **Paul Daley —**، د Walkey- ګټونکې ژورنالیست، لیکوال او د کیسو لیکوال

### مسلې ته بڼه ورکول او چمتو کول

- د استعمار او نیواک پراخه اغیزې باندې پوهیدل اړین دي، پشمول د بومي ښځو د تاوتریخوالي تجربو قضیه کې توکم پالنه، د مالکیت سلب کول، د نسلونو ترمینځ تروما او خورا ډیره لوږه، ځکه چې دا هرڅه د دې لامل کیږي چې بومي ښځې په مشکل سره مرسته ولټوي یا خدماتو ته لاسرسی پیدا کړي، همدارنګه هغوی په حکومتي ادارو باور نلري یا ویره لري چې د هغوی ښځه به د هغوی ماشومان ویوړل شي.
- د ستونزې په اړه د ټولني د حلونو او طریقو شاملول هم په پام کې ونیسئ (لکه په ټولنه کې د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو خلکو مشرتابه، قانوني اصلاحات، د کورني تاوتریخوالي د مخنیوي یا په ګوته کولو لپاره د ټولني اړوند برنامې.)

### ژبان لرونکي لیدلوري

په کیسه کې ذاتي فرضیې ملاحظه کړئ او له خپل ځان څخه وپوښتئ:

- آیا زه (د عکسونو، ادبیاتو او ارقامو له لارې) منفي لیدلوری تقویت کوم، د مثال په توګه، بومي توب د تاوتریخوالی لامل کیږي یا ونده پکي لري، یا دا چې ټول بومي خلک د نشه ییز توکو د کارولو او د الکول مشکلات لري؟
- آیا ما د بومي ښځو پروړاندې تاوتریخوالي ته د بومي ستونزې په توګه د وړاندې کولو پرځای د ښځو پروړاندې د تاوتریخوالي ملي او نړیوالي ستونزې سره ارتباط ورکړی دی؟
- آیا ما د مرتکب د ملیت په اړه فرضیې او انګیرنې کړي دي، د دې په ذهن کې نیولو سره چې غیر بومي نارینه هم مسؤل دي (او ترډیره په ښاري سیمو کې مسؤل دي) ([Our Watch](#)، 2018).
- آیا زه سهواً د تاوتریخوالي لپاره کلتور، الکول یا د ښځو چلند تورنوم؟

### کلتوري پروتوکولونه

- آیا تاسي پدې ځانګړي بومي ټولنه کې د مړه شوي شخص نومولو یا عکس کارولو کلتوري پروتوکولونو په تړاو د ټولني غړو څخه مشورې اخیستي دي؟
- آیا تاسي کولی شئ په هغه سیمه کې چې په اړه یې راپور ورکوئ د ټولنو په اړه نوره پوهه لاسته راوړئ او خپله کلتوري پوهه او وړتیا لوړه کړئ[3]؟

### خپلي سرچینې ملاحظه کړئ

- پدې پوهه شئ چې «د هیڅ چا غږ» د ټولي بومي او ټیرس سټریټ ټاپو ټولني په استازیتوب نه غږیږي
- پدې اړه د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو د خلکو څخه مشوره واخلئ چې د هغوی اړوند مشر یا ماهر *مغوی* څوک ګڼي.
- چیرې چې ممکن وي پداسي ډول د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو د ښځو غږونه خپلې کیسي کې شامل کړئ چې د هغوی څخه د منفي انځور وړاندې کولو پرځای د دې مسلې په تړاو د هغوی مشرتوب او واک برجسته شي.
- د خپلو اړیکو او سرچینو سره د اړیکو او باور جوړولو ته وخت ورکړئ. له تاریخي پلوه، کله چې د رسنیو سره د خبرو موضوع راځي نو راپور ورکولو د ټولني بې باوري رامینځته کړې ده.

---

[3] د [Koorie Heritage Trust](#) په څیر سازمانونه کولی شي پدې زده کړه او پوهه کې مرسته وکړي

| بد راپور ورکول | ښه راپور ورکول[4] |
| --- | --- |
| **سرلیک:** «وژل شوې مور... د آیس په نشه روږدي وه چې خپل ماشومان یې «وږي» ساتل او «وهل» | **سرلیک:** «مور» ریښتینې ښځې یو او مور غوارو په سوله او آرامۍ کې ژوند وکړو» |
| **ستونزه:** د دې پرځای چې د مرتکب لخوا د یوې ښځې او د هغې د دوه ماشومانو وژنه باندې تمرکز وشي، دا مقاله د قرباني د والدین چارو، د نشه ییز توکو کارولو تورونو او د ماشوم د محافظت اړوند مسایلو باندې تمرکز کوي. دا خبره سهواً پدې دلالت کوي چې ښځه د خپل قتل او همدارنګه د خپلو دوه ماشومانو د قتل مسؤله ده. | **بریا:** د Miki Perkins راپور ورکول پداسې طریقه د بومي ښځو لخوا تجربه کیدونکي نامتناسب کچې تاوتریخوالي ته توجه اړوي چې د استعمار، ملکیت سلب کولو او جاري نامساعد شرایطو پراخه جوړښت وړاندې کوي چې له امله یې دا تاوتریخوالی تقویت کیږي. |

## 4. د آسټریلیا او نړۍ څخه د بد نه ښه راپور ورکولو مثالونه

لاندې ځینې ارزښت لرونکي زده کړې وګورئ چې په آسټریلیا او نړۍ کې د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتریخوالي اړوند د رسنیو راپورونو څخه اقتباس شوي دي.

| بد | ستونزه | شواهد | ښه |
| --- | --- | --- | --- |
| «د احتمالي دله ییز جنسي تیرې قرباني خورا ډیر الکول څښلي و» | د قرباني الکول څښل کیسې پورې هیڅ تړاو نلري او سهواً پدې دلالت کوي چې هغه پخپله د هغې د جنسي تیرې مسؤله ده. <br><br> دا سرلیک په ورته توګه مرتکبین نه یادوي او توله توجه د تاوتریخوالي پاتې شوي ته اړوي. | د قرباني ګرم ګڼل ډیرې منفي اغیزې لري، لکه لړ تلقین او ملامتړ، لړه همکاري، ناسمي روغتیایي پایلې، د محکمو له لارې د زیان ناسم جبران کیدل، او همدارنګه نه په ګوته کوي چې د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتریخوالي لاملونه څه دي. | «درې بالغ سړي په تنکۍ انجلۍ د دله ییز جنسي تیرې کولو تور باندې تورن شوي» |
| وژل شوې ښځه د "«وحشي جنسي عمل» وروسته په ټیپې حالت کې پرځای پرېښودل شوې" | په بومي ښځې Lynette Daley د وحشي جنسي تیرې او وژلو په اړه راپور کې د هغې د ټپونو واضح او پاروونکي تفصیلات شامل کړی شوي. مونډل شوي چې دې مقالې د ادعا شوي جنسي تیرې بیانولو لپاره د «وحشي جنسي عمل» اصطلاح په کارولو سره په «ناسم» او «غیرعادلانه» ډول د آسټریلیا د مطبوعاتو شورا معیارونو څخه سرغړونه کړې ده. | د اوږدې مودې لپاره د بومي ښځو پروړاندې تاوتریخوالی د رسنیو راپورونو کې کم ښودل شوی، برآت ورکړل شوی یا له سره هیڅ «وړاندې شوی» نده. د ادعا شوي جنسي تیرې نومولو کې پاتې راتلو سره، مقالې مسؤلیت د مرتکبینو څخه اړولی دی او د Lynette Daley د رضایت پرته او وحشي جنسي تیرې او وژنه یې له پامه غورځولې ده. | «د ادعا شوي وحشي جنسي تیرې او قتل وروسته د Lynette Daley لپاره د عدالت غوښتنې کمپاین.» |

[4] نور معلومات د بومي خلکو د کورني تاوتریخوالي تجربو په اړه راپور ورکولو کې مونډلې شئ (2018)

| | | | |
|---|---|---|---|
| «د تاوتريخوالي لپاره د ګرم ګنل کيدو غم» | ټولنه د نه ويل کيدونکي تاوتريخوالي باندي پوهيدو لپاره د لارو په لټه کي ده، مګر د تاوتريخوالي اصلي لاملونو په اړه خلکو ته د پوهاوي ورکولو پرځای، د مرتکب لخوا تجربه شويو سختيو راپور ورکړل شوی دی. | د دې په پام کې نيولو سره چې «غم» يا د رواني روغتيا مسايل د ښځو پروړاندي د نارينه و د تاوتريخوالي لپاره «ګرم وګنل» شي، شواهد داسي څه نه وړاندي کوي او په ورته وخت کي د کورني تاوتريخوالي په اړه د ويکټوريا شاهي کميسون د موندنو سره هم سمون نلري. | «د نه ويل کيدونکي ډير زيات تاوتريخوالي کنټرولو لپاره د مرتکب اړتيا» |
| وژل شوې ښځې د «شيمل» په توګه رجوع کيږي | کله چې دوه جنسيتي ښځه Mayang Prasetyo د هغې د خاوند Marcus Volke لخوا په وحشيانه ډول ووژل شوه، ځيني راپورونو د تاوتريخوالي غيرلازمي او واضح تفصيلاتو باندي تمرکز وکړ، هغه يې د لامبو پوښاک په تن يولړ انځورونو کې شهوتي وښودله، او د دې تاوتريخوالي تاييد کولو يا ورباندي پوهيدلو لپاره يې د هغې د جنسي کار او شخصي ژوند پلټنه وکړله. | هغه ښځې چې دوه جنسيتي، متنوع جنسيت، لزبيين او دوه جنسيت خوښونکی شناخت لري د تبعيض سره مخ کيږي او د تاوتريخوالي تجربه کولو لپاره په ځانګړي توګه هدف ګرځول کيږي.<br><br>ټولي ښځې د داسي بې پرې رسنيو ملاتړ ته اړتيا لري چې د زيان لرونکي بنې راميندڅه کولو لامل کيږي نه. | «سړي په وحشي ډول خپله ښځه وژلې ده»<br><br>ځکه چې د Mayang Prasetyo جنسي ليدلوری، مسلک، طبي تاريخچه او اصلي هيواد بايد د تاوتريخوالي لامل ونه ګڼل شي – د هغې خاوند د تاوتريخوالي کارولو پريکړه کړې ده. |
| «د نڅا په دريځ قتل» | د Arman Abrahimzadeh مور د 300 خلکو په مخ کې د هغې پلار په وحشيانه ډول ووژله، چې د ډيرو پام يې ځانته واړاو.<br><br>د هغې د مور د مړيني په تعقيب، آستريليايي رسنيو راپور ورکړ چې د هغې د اسلامي ميراث يا سابقې له امله، دا قتل تر يو بريد پورې له کلتوري پلوه اړوند و.<br><br>په سرليک کې د مشهوري پاپ سندرې يادونه غيرضروري او ناسم کار و. | Arman تشريح کړې: "زموږ د مور مړينه داسي کوم څه نه و چې د ورځپانو پلورلو لپاره ورته بايد ډراماتيک بڼه ورکړل شوي وی، زما د پلار تاوتريخوالی د مذهبي يا کلتوري ارزښت پايله نه وه او نه هم لدې امله چې د هغه اعصاب خراب شوي و".<br><br>"زما د مور مړينه د شديد جنسيتي نابرابری درلودونکي ټولني پايله وه چيرې چې موږ شتون درلود، چيرې چې زما مور، خويندي او زه زما د پلار په واک کې و يا د هغې ملکيت و." | «سړي خپلې ښځې سره کلونه د ناوړه چلند کولو وروسته هغه ووژله» |

## 4. عام ناسم تصورونه

د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندي تاوتريخوالي په مسله کې ډيری ناسم تصورونه او باورونه شتون لري، پشمول د:

| ناسم تصور | واقعيت |
|---|---|
| الکول، د نشه ييز توکو استعمال، د رواني روغتيا مسايل يا ستريس د ښځو پروړاندي د تاوتريخوالي لامل کيږي. | که څه هم دا مسايل کولی شي تاوتريخوالی شديد کړي، مګر دا د تاوتريخوالي لاملونه ندي. |

| | |
|---|---|
| د نارینه قاریدل یا کوم څه (استدلال کول) تاوتریخوالی رامینځته کوي. | ځیرنې ښودلې دي چې د هغه سړیو ډیر شمیر (80 سلنه) چې خپلې میرمني یا د ژوند ملګرې وژني هغوی د هغو سره د ناوړه چلند کولو تاریخچه لري. |
| د جنسیت/جنډر نابرابري د ښځو پروړاندې تاوتریخوالي کې هیڅ رول نلري. | ښځې ترډیره د کورني تاوتریخوالي او جنسي او فزیکي تیري قرباني دي (ABS, 2016) ځکه چې هغوی د هغوی د جنسیت له مخې د تاوتریخوالي لپاره هدف ګرځي، او نارینه ترډیره د تاوتریخوالي مرتکبین دي. |
| د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی کمیاب دی یا په اړه یې وړاندوینه ناشوني ده. | د روغتیا نړیوال سازمان موږ ته وایي چې د ښځو پروړاندې تاوتریخوالی هم د وړاندوینې وړ دی او هم یې مخنیوی شوني دی. په ټوله آسټریلیا کې په اوسط ډول هرو دوه دقیقو کې د کورني تاوتریخوالي پیښو په تړاو پولیسو ته تلیفون کیږي. همدارنګه کورنی تاوتریخوالی د 15–44 عمر لرونکو ښځو کې د ناسمي روغتیا درلودو او د وخت څخه مخکې مړینې ترټولو لوی لامل دی (VicHealth, 2018). |
| ځیني کلتورونه یا ټولنیز – اقتصادي ډلې د نورو په پرتله ډیرې تندې دي. | که څه هم تبعیض د دې معني درلودلی شي چې د ځیني کلتورونو او ټیټ ټولنیز اقتصادي ډلو څخه ښځې په نا متناسب ډول د تاوتریخوالي څخه اغیزمني شوې دي، خو دا ادعا چې د دغه ډلو څخه مرتکبین په ذاتي ډول ډیر تند او تاوتریخوالی کونکی دي دا ادعا هم ناسمه ده او هم زیان لرونکی. راپورونه په مکرر ډول پدې دلالت کوي چې د بومي ښځو پروړاندې تاوتریخوالی یوازې د بومي سړیو لخوا ترسره کیږي، پداسې حال کې چې غیربومي نارینه هم د تاوتریخوالي مرتکبین دي، په ځانګړي توګه ښاري ساحو کې (Our Watch, 2018).<br><br>همدارنګه موږ پدې هم پوهیږو چې د لنډمهاله ویزې لرونکې ښځې هم د هغوی د ټولو کلتوري سابقو لرونکي د ژوند ملګرو لخوا تاوتریخوالی تجربه کوي، پشمول د آسټریلیایی اتباع. |
| ښځې په مکرر ډول د جنسي برید او تیري په اړه دروغ وایي. | د کورني تاوتریخوالي یا جنسي تیري غلط ادعاوې خورا په ندرت سره کیږي (AIFS, 2013) او نږدې 80 سلنه ښځې چې د خپل اوسني ژوند شریک لخوا تاوتریخوالی تجربه کوي (ABS, 2012)، او 80 سلنه هغه ښځې چې جنسي تیری تجربه کوي، د تاوتریخوالي په اړه د پولیسو سره اړیکه نه نیسي (ABS, 2006). |
| ښځې کولی شي د تاوتریخوالي وضعیت څخه ځان وباسي "که هغوی وغواړي". | خورا شدید تاوتریخوالی، پشمول د قتل، ډیری ځله هغه وخت پیښیږي کله چې ښځه د اړیکې پریښودو هڅه وکړي.<br><br>کله چې داسې وانګیرل شي چې د تاوتریخوالي قرباني ښځه د خپل انتخاب یا خوښې له مخې پاتې کیږي، نو تور د مرتکب څخه اړول کیږي.<br><br>پدې تړاو ډیری دلایل شتون لري چې ښځې ولې د تاوتریخوالي راپور نه ورکوي یا تاوتریخوالی نه پریږدي، پشمول د:<br><br>• د خپلو ماشومانو د ژوند ویره (د حامله ښځو لپاره |

| | |
|---|---|
| | لوړ خطر)<br>• کلتوري توقعات یا د کورنۍ او ملګرو لخوا فشارونه<br>• د استوګنې او مالي سرچینو نه شتون ترڅو وکولی شي وتښتي او ملاتړ ومومي<br>• د تخصصي ملاتړ خدماتو یا عاجل استوګنې ته د لاسرسي پروړاندې خنډونه – پشمول د ویزه څرنګوالی، ژبه او جغرافیه ای موقعیت (د مثال په ډول په کلیوال او سیمه ییز ساحو کې ژوند کول)<br>• د تبعیض یا توکم پالنې پخوانیو تجربو له امله په پولیسو یا نورو چارواکو په مشکل سره باور کول، یا پاملرنې ته د خپلو ماشومانو له لاسه ورکول که چیرې هغوی کور ته څیرمه د تاوتریخوالي راپور ورکړي<br>• د تللو یا پریښودلو کې مشکلات څکه چې ممکن هغوی د هغوی سره ناوړه چلند کونکو ملاتړ باندې تکیه ولري (د مثال په توګه، معیوبیت لرونکي ښځې او زړې ښځې). |

## 3. حقایق او ارقام

### ارقام

#### په ویکتوریا کې:

- په یو کال کې په 18-2017 کې:
  - هره میاشت د 5,690 او 7,127 ترمینځ د کورنې تاوتریخوالي پیښې ثبت شوې دي
  - د کورنې تاوتریخوالي څخه اغیزمن شوې 76,125 ویکتورینز 75 سلنه ښځې وې، ترډیره (71.5 سلنه) د 20-49 عمرونو لرونکې
  - د دغه تاوتریخوالي 76.2 سلنه مرتکبین نارینه و
- بومي ویکتورینز د کورنې تاوتریخوالي پیښو راپورونو کې ډیر وړاندې شوي دي چې د اغیزمن شوې کورنیو غړو لپاره له څلور چنده څخه ډیر او د تورن مرتکبینو لپاره پنځه چنده. د ویکتورینز نفوس د یو سلنې څخه کمې برخې جوړولو سربیره، بومي خلکو په تیرو 10 کلونو کې د ټولو اغیزمن شوي کورنۍ غړو راپورونو څلور سلنه (21,401) برخه و او د ټولو تورن مرتکبینو راپورونو کې پنځه سلنه (25,666) برخه و. (Victorian Aboriginal Affairs Report, 2017)
- نړیوالې مطالعې ښیې چې د لوی عمر ویکتورینز په هرو شپږو کې یو (شاوخوا 150,000) د لوی فرد لخوا ناوړه چلند څخه اغیزمن شوي دي (Seniors Rights Victoria, 2018)، چې د ټولو جرمونو نږدې نیمایی یې د یوه لوی قرباني فرد پروړاندې د کورنې تاوتریخوالي په پنځه کې پیښ شوي دي (Alastair Goddell، Victoria Police، 2018)
- په ویکتوریا کې د ټول هیواد 33 سلنې پرتله د بې کورې تخصصي خدماتو لټونکې خلکو 38 سلنه ښځې دي چې د کورنې تاوتریخوالي څخه تښتي

#### په آسټریلیا کې:

- په اوسط ډول په اونۍ کې یوه ښځه د هغې د اوسني یا پخواني د ژوند ملګري لخوا وژل کیږي (AIHW, 2018)
- په دریو کې یوې آسټریلیایي ښځې فزیکي تاوتریخوالی تجربه کړی دی (ABS, 2017)
- په پنځه و کې یوې آسټریلیایي ښځې جنسي تاوتریخوالی تجربه کړی دی (ABS, 2017)
- د سړو په پرتله لړترلږه درې چنده ډیر احتمال شتون لري چې ښځې د خپل ژوند ملګرو لخوا تاوتریخوالی تجربه کړي. (ABS, 2017)
- په پنځه و کې یو +LGBTIQ آسټریلیایي فزیکي ناوړه چلند تجربه کړی دی (د آسټریلیا د بشري حقونو کمیسون، 2014)

- د هغو ښځو او انجونو په پرتله چې معيوبيت نلري لږترلږه دوه چنده ډير احتمال شتون لري چې معيوبيت لرونکي ښځې او انجونې تاوتريخوالی تجربه کړي (Women with Disabilities Victoria, 2013)
- د هغه 49 ښځو څخه چې په 2017 کې يې په آسټريليا کې د ښځو په وړاندې تاوتريخوالي کې خپل ژوند له لاسه ورکړی دی د يو په دريو عمر يې د 60 کلونو څخه ډير و (Counting Dead Women Australia, 2018)
- نږدې 35 ځله ډير احتمال شتون لري چې بومي ښځې د نورو ښځو په پرتله د کورني تاوتريخوالي په پايله کې د بستر حالت ته ورسي. د قتل قرباني بومي ښځو په پنځه و کې دوه يې (41 سلنه) د هغوی اوسني يا پخواني د ژوند شريک لخوا وژل شوي دي، د غيربومي قربانيو د کچې دوه چنده (22 سلنه) (AIHW 2018)
- هغه ښځې چې ليزبين يا دوه جنسيتي ليوالتيا شناخت لري د مخالف جنس سره ليوالتيا لرونکو ښځو په پرتله خورا ډير جنسي تاوتريخوالی تجربه کوي (de Visser et al. 2014)

### د ډيټا ستونزه

ترټولو جامع ډيټا چې موږ ورسره مخ شوي يو د Australian Bureau of Statistics (ABS) لخوا ترسره شوي د شخصي خونديتوب سروی ډيټا ده، دا د دواړه نارينه او ښځو لخوا تجربه کيدونکي تاوتريخوالي د څرنګوالي او پراختيا په اړه معلومات راټولوي، مګر جرمي ارقام نه ثبت کوي.

ثبت شوي جرمي ارقام، الزاماً موږ ته نه وايي چې څومره خلکو د جنډر له مخې تاوتريخوالی تجربه کړی دی ځکه ډيری هغه خلک چې دا تجربه کوي په اړه يې پوليسو ته راپور نه ورکوي.

علاوه لدې، هغه ښځې چې څو ډوله تبعيض او فشار سره (د مثال په ډول، د هغوی د نژاد، جنډر، جنسي ليدلوري، فزيکي يا رواني وړتيا، يا عمر له امله) مخ کيږي (د مثال په ډول، د هغوی د نژاد، جنډر، جنسي ليدلوري، فزيکي يا رواني وړتيا، يا عمر له امله) هغوی د نورو ښځو په پرتله ډير تاوتريخوالی تجربه کوي مګر په ورته وخت کې ډير کم احتمال شتون لري چې هغوی د تاوتريخوالي راپور ورکړي يا مناسب غبرګونونه يا ملاتړ لاسته راوړي.

همدارنګه موږ اړ په پام کې ولرو چې زموږ خپله **ضمني ليوالتيا** موږ دې ته اړ کولی شي چې ارقام په ناسم ډول تفسير کړو. د مثال په ډول، که څه هم د نورو ښځو په پرتله بومي او د ټيرس سټريټ ټاپو ښځې ډير کورنی تاوتريخوالی تجربه کوي[5]، عامه بحثونه او رسنيز راپورونه داسې استدلال کوي چې دا تاوتريخوالی يوازې د بومي او ټيرس سټريټ ټاپو نارينه و لخوا ترسره کيږي؛ پداسې حال کې چې په حقيقت کې غيربومي نارينه هم د دې مسؤل دي (او ترديره په ښاري سيمو کې (Our Watch, 2018)).

## 5. د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتريخوالي اغيزې

د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې د تاوتريخوالي اغيزې مختلف، ژورې او اوږد مهاله کيدی شي. ممکن د تاوتريخوالي پای ته رسيدو کلونه وروسته هم پاتې شوي دوامداره ملاتړ ته اړتيا ولري. د همدې لپاره دا يولړ تولنيز، روغتيايي او اقتصادي پايلې د کورنيو او ټولنو لپاره لري، او په نهايت کې د ټولنې لپاره، چې د آسټريليا لپاره هر کال د اټکل له مخې 21.6 ميليارد ډالر لګښت لري.

د کورني تاوتريخوالي سره ژوند کول په ځانګړي توګه د ماشومانو لپاره پريشانه کونکی دی. اغيزې يې رواني، جاري او اوږدمهاله کيدی شي. دا د وخت په تيريدو سره ډيريدی شي او د ماشومانو د ژوند په ټولو اړخونو اغيزه کولی شي، پشمول د روغتيا، ودې او سالميت.

---

[5] د ډيټا هيڅ کومه داسې سرچينه شتون نلري چې د ټولو ډولونو تاوتريخوالي مستقيم پرتله وړاندې کړي. په هرصورت د ډيټا بيلابيلې سرچينې د تناقض پرته ښيي چې د غيربومي ښځو په پرتله بومي او د ټيرس سټريټ ټاپو ښځې ډير (او ځينې وختونه خورا ډير) تاوتريخوالی تجربه کوي، چې اندازه يې د تاوتريخوالي نوع، د ډيټا سرچينې او سيمې له مخې توپير کوي. په 15-2014 کې، د بومي او ټيرس سټريټ ټاپو لپاره د 000 100 ښځينه نفوس کې د کورني تاوتريخوالي اړوند بريدونو په لړ کې 530 ښځې د بستر حالت ته رسيدلي دي. د نفوس د عمر جوړښتونو کې د توپيرونو تنظيم کولو وروسته، دا د غيربومي ښځو په پرتله 32 چنده لوړ ارقام و. سرچينه: د حکومتي خدماتو چوپړتيا بياکتنې لپاره رهبري کميټه (2016) په بومي نامساعد شرايطو برلاسي کيدل: کليدي شاخصونه 2016، د ګټورتيا کميسون، کانبيرا، مخ 4.98، او جدول (جدول 4A.12.13).

## 6. تعریفونه

### اصطلاحات

د **«ښځو پروړاندې تاوتریخوالی» د جنډر پربنسټ د تاوتریخوالي هر هغه** عمل دی چې ښځې ته د زیان رسیدو لامل کیږي، هغه که د خلکو په مخ کې پیښ شي یا هم د بندو دروازو شا ته. د **«جنډر بنسټ»** پدې معني دی چې تاوتریخوالی په نامتناسب ډول (په ټوله کې) د سړو څخه ډیری ښځې اغیزمنوي ، دا چې په پراخه ټولنیز چوکاټ کې پیښ شي چیرې چې د سړو او ښځو ترمینځ ځواک او سرچینې په غیرمساوي ډول ویشل شوي وي، او تاوتریخوالی د جنډر له مخې د ځواک دا نابرابري تقویت کړي. که څه هم د ښځو لخوا تجربه کیدونکی ډیر تاوتریخوالی کورني چوکاټ کې ترسره کیږي (د ژوند نارینه ملګرو یا پخواني ملګرو یا د کورنی نورو غړو لخوا)، خو *تل* داسي نه وي – د جنډر له مخې تاوتریخوالی چې ښځې یې تجربه کوي پکې ډیر نور ډولونه شامل دي – د مثال په ډول، د کوم بل چا/د کورنی د غړي لخوا جنسي تیری او جنسي برید، د نیتې ورکولو تاوتریخوالی، او فزیکي تاوتریخوالی یا د (مثال په توګه) د همکار، ټولګي وال یا نا آشنا فرد لخوا ځورونه.

**«کورنی تاوتریخوالی»** یوه عامه اصطلاح ده چې د هغه تاوتریخوالي د تایید لپاره کارول کیږي چې د کورنی (د مثال په توګه د کورنی د غړو ترمینځ) او ټولني غړو پراخه شبکه کې پیښیږي او هغه ډول تاوتریخوالي لپاره کارول کیږي (فزیکي، جنسي، رواني، احساسي، یا مالي) چې خورا نږدې اړیکه کې پیښیږي. کورنی تاوتریخوالی همدارنګه هغه تاوتریخوالي ته راجع کیږي چې په بومي او تیرس سټریټ ټاپو ټولنو یا نورو کلتوري ټولنو کې په لیرې خپلوانو او د کورنی اړیکو کې پیښیږي. دا اصطلاح د **«داخلي تاوتریخوالی»** په پرتله ډیره کارول کیږي، کوم چې د تاوتریخوالي یوازې هغه اعمالو ته راجع کیږي چې د دوه خلکو ترمینځ په یوه داخلي یا کورني جوړښت کې پیښیږي چې نږدې اړیکه لري یا درلودله یې.

د ویکټوریا د کورنی تاوتریخوالي د محافظت 2008 کال قانون کورنی تاوتریخوالی داسې تعریفوي "د کورنی کوم یوه غړي لخوا داسې چلند چې د هغې د ژوند ملګري، پخواني ملګري یا د کورنی نورو غړو کې ویره او په هغوی کنټرول رامینځته کوي". دا چلند او سلوک څو ډوله کیدی شي او پدې کې شامل دي:

- فزیکي تاوتریخوالی، لکه وهل، ټیله کول، سوځول یا ساه وربندول، سخت یا له غفلت ډک پاملرنه کول
- رواني او/یا لفظي ناوړه چلند (لکه ګواښونه، مکرر سپکاوی، نومول، جنسي، توکمي، د عمر اړوند، وړتیا یا همجنسګرایی اړوند ناوړه چلند)
- احساسي ناوړه چلند، لکه سپکاوی، لاسوهنه، ګواښونه
- مالي ناوړه چلند، لکه پیسو ته د لاسرسي کنټرولول
- په بد نظر کتل یا کوم بل ډول ځورونه
- جنسي تاوتریخوالی، پشمول د ګواښ او جبر
- د چلند نور ډولونه چې د کورنی غړي د کنټرول، ویرولو، یا د هغوی خپل ځانته درناوي له مینځه وړلو لپاره کارول کیږي – پشمول د هغوی محدودول چې د چا سره وګوري او څه وکړي

د هغه ښځو لپاره چې څو ډوله تبعیض او فشار تجربه کوي، مرتکبین ممکن د خپل ناوړه چلند لپاره د هغوی دا نا مساعد شرایط وکاروي. د مثال په توګه:

- د کوم شخص د معیوبیت اړوند تجهیزاتو یا مرستندویه وسایلو لیرې کول
- د کوم چا ګواښل
- د کومې ښځې د کنټرولولو لپاره د هغې د لندمهاله ویزې وضعیت کارول
- د کوم لوی فرد مخه نیول چې خپلو مالي چارو او پیسو ته لاسرسی ولري یا کنټرول وربانديې ولري

کورنی تاوتریخوالی د جنس، جنسي لیدلوري، جنډر شناخت، یا د شناخت کوم بل ډول نښو په پام کې نیولو پرته هر چا سره پیښیدی شي. په هرصورت، د ارقامو له مخې نارینه د مرتکبینو اکثریت جوړوي او ښځې او ماشومان د قربانیانو – پاتې شویو اکثریت جوړوي.

د **«لوی فرد ناوړه چلند»** هر هغه عمل دی چې یو زوړ فرد ته د زیان لامل کیږي او د کوم داسې چا لخوا ترسره کیږي چې هغوی یې پیژني او باور وربانديې کوي لکه کورنی یا ملګري. ناوړه چلند پدې لاندې ډولونو کیدی شي:

- فزیکي – لکه وهل یا ټیله کول
- مالي – د کوم چا د ملکیت، مالیاتو یا نورو شتمنیو په غیرقانوني یا ناسم ډول کارول
- احساسي – لکه لفظي ناوړه چلند یا ګواښونه؛

- یا جنسي – پشمول د ناغوښتلي جنسي اعمالو یا لمس کولو.

پدې کې غفلت هم شامل کیدی شي، او ډیری وختونه له یو څخه ډیر ډوله ناوړه چلند کارول کیږي.

## 7. رسنۍ او د شالید اړیکې

دلته موږ تاسي ته د هغو لارو چارو سپارښتنه کوو چې تاسې يې د کورني تاوتريخوالي په اړه تخصص لرونکي خلکو او سازمانونو موندلو او د ښځو او د هغوی د ماشومانو پروړاندې تاوتريخوالي د مخنيوي لپاره کارولی شئ.

د رسنیو او شالید اړیکي تفصیلاتو د لیست کولو پرځای چې ډیر ژر له پامه غورځول کیږي، موږ سپارښتنه کوو چې په منظم ډول د رسنیو تازه کیدونکي اړیکو لپاره د Our Watch ویب پاڼي څخه لیدنه وکړئ[6].

### د کورني تاوتريخوالي تخصصي سازمانونه

- Our Watch
- ANROWS, Australia's National Research Centre for Women's Safety
- Djirra، مخکې Aboriginal Family Violence Prevention او Legal Service Victoria
- Domestic Violence Resource Centre (DVRC)
- Domestic Violence Victoria (DV Vic)
- InTouch Multicultural Centre Against Family Violence
- No to Violence، د نارينه و د کورني تاوتريخوالي پای ته رسولو مخکښ نهاد
- CASA Forum
- Women's Health East، د پاتي شويو وکيلانو ته د لاسرسي لپاره
- 1800 RESPECT (Medibank - ملي خدمت)

### افراد

- Dr. Anatasia Powell, RMIT University
- Dr. Kate Fitz-Gibbon, Monash University
- Margaret Simons، ژورناليست او ليکوال

### د ځانګړي ډلو په اړه راپور ورکولو اړوند سازمانونه

- Gay and Lesbian Health Victoria
- Multicultural Centre for Women's Health
- Queerspace - د ډرومانډ سرک خدمات
- Seniors Rights Victoria
- Thorne Harbour Health
- Women with Disabilities Victoria
- VicHealth
- Youth Affairs Council Victoria (YACVic)

[6] د رسنیو او شالید اړیکو د تازه لیست لپاره د www.ourwatch.org.au/News-media/Media-Contacts څخه لیدنه وکړئ

## 8. سرچيني او نور معلومات

### ارقام او سروې ګاني


Australian Bureau of Statistics (ABS)، 2017، د *2016 شخصي خونديتوب سروې*:
http://www.abs.gov.au/ausstats/abs@.nsf/mf/4906.0

Australian Bureau of Statistics (ABS)، 2017، *ثبت شوي جرمونه – قربانيان، آستراليا، 2017 – ويکتوريا* :
http://www.abs.gov.au/ausstats/abs@.nsf/Lookup/by%20Subject/4510.0~2017~Main%20Features~Victoria~8

Australian Domestic and Family Violence Death Review Network، *د ډيټا راپور، 2018*:
http://www.ombudsman.wa.gov.au/Reviews/Documents/FDV/ADFVDRN_Data_Report_2018.pdf

Australian Institute of Health and Welfare، 2018، *په آستراليا کې کورنۍ، داخلي او جنسي تاوتريخوالی*:
https://www.aihw.gov.au/reports/domestic-violence/family-domestic-sexual-violence-in-australia-2018/contents/summary

Crime Statistics Agency (Victoria)، *د کورنۍ تاوتريخوالي ډيټا پورټل*:
https://www.crimestatistics.vic.gov.au/family-violence-data-portal

Morgan A & Chadwick H، 2009، *په کورنۍ تاوتريخوالي کې مهم مسايل*. عملي څېړنه لمبر 7. کانبيرا: د آستراليا جنايي انسټيټوټ. https://aic.gov.au/publications/rip/rip07

VicHealth، 2013، *National Community Attitudes towards Violence Against Women Survey (NCAS)*:
https://www.vichealth.vic.gov.au/media-and-resources/publications/2013-national-community-attitudes-towards-violence-against-women-survey (مهرباني وکړئ په ياد ولرئ، ANROWS به د وروستۍ (2017) سروې پايلې د 2018 وروستيو/د 2019 پيل کې خپرې کړي).

د ويکتوريا حکومت، 2018، *Dhelk Dja: Safe Our Way. قوي کلتورونه، قوي خلک، قوي ټولنې*،
https://www.vic.gov.au/system/user_files/Documents/fv/Dhelk%20Dja%20-%20Safe%20Our%20Way%20-%20Strong%20Culture%2C%20Strong%20Peoples%2C%20Strong%20Families%20Agreement.pdf

د ويکتوريا حکومت، *د کورنۍ تاوتريخوالي په اړه شاهي کميسون، د 227 سپارښتنو د تطبيق وضعيت*،
https://www.vic.gov.au/familyviolence/recommendations.html

World Health Organisation (WHO)، *د جنډر تاوتريخوالي پروړاندې د 16 ورځو فعاليت*، په کې موجود دي


### د رسنيو لارښووني او سرچيني


Australian Press Council, 2014، *د ځان وژنې پوښښ ځانګړي معيارونه*
https://www.presscouncil.org.au/uploads/52321/ufiles/SPECIFIC_STANDARDS_SUICIDE_-_July_2014.pdf

Australian Press Council, 2016، *د کورنۍ او داخلي تاوتريخوالي راپور ورکولو په اړه مشورتي لارښود*،
https://www.presscouncil.org.au/uploads/52321/ufiles/Guidelines/Advisory_Guideline_on_Family_and_Domestic_Violence_Reporting.pdf

Kalinya او Department of Premier and Cabinet، 2017، *د بومي خلکو د کورنۍ تاوتريخوالي تجربو په اړه راپور ورکول* http://kalinya.com.au/wp-content/uploads/2018/01/Reporting-on-Aboriginal-peoples-experiences-of-family-violence-media-toolkit-1.pdf

Monash University، 2018، *هراړخيزه ژبه* https://www.monash.edu/about/editorialstyle/writing/inclusive-language

*د آسټریلیا د رسنیو تنوع، د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو خلکو او مسایلو په اړه راپور ورکول،*
*https://www.mediadiversityaustralia.org/indigenous/*

Our Watch، *په LGBTI ټولنو کې د خلکو پروړاندې د تاوتریخوالي مخنیوی،*
https://www.ourwatch.org.au/getmedia/13fdedoc-851b-4935-b402-e00fdb9b6e4b/Summary-report_Preventing-FV-against-people-in-LGBTI-communities-(Accessible-PDF).pdf.aspx

Pearson M & Polden M, 2014، د رسنۍ قانون ته د ژورنالستانو لارښود: په ډیجیټل نړۍ کې د مکاتبینو لپاره لاسي جزوه، Allen and Unwin

*د بومي او ټیرس سټریټ ټاپو خلکو او مسایلو په اړه راپور ورکول: د رسنیو لپاره مقدماتي سرچینه(2018).*

د کوینزلینډ حکومت، *د کورنۍ او داخلي تاوتریخوالي اړوند د رسنیو لارښود:*
https://www.communities.qld.gov.au/resources/gateway/campaigns/end-violence/domestic-family-violence-media-guide.pdf